Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دویم کال - ۳۶مه ګڼه | پرله‌پسې ۵۰مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۹/۲۷



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکتورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- نړیوال بانک ویلي د افغانستان اقتصاد د ودې په حال کې دی

۲- د نفت او ګازو په نوم خپلواکه اداره فعالیت پیلوي

۳- بلخ کې د نفتي توکو سوداګریز مرکز جوړېږي

# نړیوال بانک ویلي د افغانستان اقتصاد د ودې په حال کې دی

نړیوال بانک د افغانستان د اقتصاد په اړه په یوه راپور کې ویلي، د افغانستان اقتصاد د دویم پرلپسې کال له پاره د ودې په حال کې دی. نړیوال بانک د دې لامل ټیټ انفلاسیون او د عوایدو زیاتوالی ښودلی دی. راپور کې ویل شوي چې د افغانستان ناخالص کورنی تولید به په ۲۰۲۵ کال کې درې اعشاریه څلورسلنه وده وکړي، چې دا د ۲۰۲۴ کال د دوه اعشاریه پنځه سلنې ودې په پرتله زیاتوالی ښیي.
هغه مهال چې اسلامي امارت واک ته ورسېد، نو د ډېرو ګومان دا و چې افغانستان به یو ناکام اقتصاد ولري، سوداګري به سقوط او له نورې نړۍ به



بېخي ګوښه شي، خو د افغانستان اسلامي امارت د پرلپسې هڅو پراساس د هېواد اقتصاد وده وکړه، اقتصادي فعالیتونه زیات شول، افغانی باثباته شوه او ډېره پانګونه جذب شوه.
د افغانستان اسلامي امارت د هڅو په پایله کې په ډېرو توکو کې ځان بسیاینې ته ورسېد او د بېکارۍ کچې ټیټولو له پاره ګڼې پروژې پیل شوې. د کانالونو، سړکونو او فابریکو جوړولو ګڼې پروژې پلې شوې او د راستنېدونکو کډوالو له پاره ډېرې اسانتیاوې برابرې شوې. دا ټول د اسلامي امارت د نیول شویو پلانونو له امله وشول او اسلامي امارت د هغو خلکو ګومان ناسم ثابت کړ چې فکر یې کاوه د اسلامي امارت په راتګ سره به له ګڼو ستونزو سره مخ شي.
د نړیوال بانک راپور ثابتوي چې افغانستان په وروستیو دوو کلونو کې ښه مزل کړی او له اسلامي امارت سره د افغانستان راتلونکی روښانه دی.

# د نفت او ګازو په نوم خپلواکه اداره فعالیت پیلوي

امارتي مسوولینو ویلي چې د افغانستان اسلامي امارت د کابینې په غوښتنه او عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر بنسټ د نفت او ګازو په نوم نوې اداره



جوړېږي.
په دې اړه اداري کمېسیون ته دنده سپارل شوې چې له وزارتونو او اړوندو ادارو شاوخوا اته څانګې چې په نامنسجمه توګه د نفت اوګازو اړوند فعالیتونه کوي، د نوې خپلواکې ادارې په تشکیل کې تنظیم کړي. افغانستان چې نفت او ګاز لري، د دغه ډول یوې خپلواکې ادارې جوړېدل ډېر مهم و، ځکه په نننۍ نړۍ کې دواړه د انرژۍ د تولید مهمې سرچینې دي ، نو د دې مهمو توکو د تولید، تنظیم، کیفیت او نورو چارو له پاره د داسې اداري جوړېدل به په چارو کې ښه والی رامنځته کړي.
افغانستان چې اوسمهال یو مصرفي هېواد دی او ډېره اندازه نفت او ګاز له نورو هېوادونو راواردوي، په داسې حال کې چې

خپله تر ځمکې لاندې شتمني لري، نو د دې اداري پــه رامنځته کولو سره به په دې سکتور کې د اکتشاف، استخراج، پېر او پلور چارې منظمې او چټکې شي. مسلکيتوب ته به لا ډېر پام وشي او ملي شتمني به په لا ډېر اغېزناک ډول د هېوادوالو تر لاسونو ورسېږي او سوداګرۍ بـه يې پراختيا ومومي.

## بلخ کې د نفتي توکو سوداګريز مرکز جوړېږي

بلخ کې د نفتي توکو او مايع ګازو د اتحاديې مسوولينو ويلي، د سوداګرو لـه پاره د اسانتياوو د زياتولو په موخه د نفتي توکو د پلور بازار او د اتحاديې مرکز له حيرتان بندره مزار شريف ته لېږدول شوی دی. په مزار شريف کې به د نفتي توکو له پاره د ۱۵ ميليونو ډالرو په لګښت يو ۱۲ پوړيز سوداګريز مرکز جوړ شي. نفت چې د انرژۍ لومړنۍ او اساسي سرچينه ده، په افغانستان کې هم ورته ډېره اړتيا ليدل کېږي، خو ځينې وخت يو شمېر ستونزې رامنځته کېږي، چې د حل له پاره د مسوولينو او سوداګرو ترمنځ تفاهم ته اړتيا وي. ښارونو ته د سوداګريزو مرکزونو د انتقال يوه ګټه دا هم ده چې په ښارونو کې د اړوندو خلکو ترمنځ نږدې تماس موجود وي او د احتکار، د بيو کنټرول او کيفيت ساتلو په اړه نږدې او اسانه بحث کېدلی شي. دغه راز، دغه ډول لوی سوداګريز مرکزونه د کاري فرصتونو په ايجاد او سوداګريزو فعاليتونو زياتولو کې هم مهم رول لوبوي.

